SHTAMANI
شتمنی
اوونیزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت

**د رمضان مبارک فضائل او ځانګړتیاوي**

**رسول الله** صلی الله علیه وسلم **فرمايي:** پرتاسي د رمضان مبارك مياشت راغله، چي الله تعالی د دغي مياشتي روژه پر تاسو فرض کړې ده، په دغه مياشت کي د جنت دروازې پرانيستل کيږي او د دوزخ دروازې بندیږي، په دې مياشت کي شيطانان تړل کيږي، په دې مياشت کي الله جل جلاله ته يوه شپه ډېره غوره ده، چي په دې شپه کي عبادت کول له زرو مياشتو غوره دئ. [رواه النسائي]

( د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست، له لوري)

يکشنبه | د رمضان المبارک ۱۴ - ۱۴٤٥ال س/ د وری ۵ - ۱٤۰۳ال ل/ د مارچ ۲۴ - ۲۰۲٤ز/دوهم کال / ۹۲ گڼه/ ٤ مخيز | ۱

## سر مقاله

### د خصوصي سکټور څخه ملاتړ د اسلامي امارت لومړيتوب دئ

په يوه هيواد کي له کورنيو توليداتو څخه ګټه اخيستنه او کارول ئې پر خصوصي سکټور باندي مهمي اغېزې لرلای سي. د کورنيو توليداتو څخه د ښې استفادې لپاره اړتيا ده، چي نظام بايد د خصوصي سکټور سره په همغږۍ په بهرنيو توليداتو باندي ځيني محدوديتونه وضع کړي او داسي مناسبي ستراتيژۍ ترتيب کړي، چي خصوصي سکټور وکولای سي د بهرنيو توليداتو په مقابل کي سالم رقابت وکړي او خلک دې ته وهڅوي، چي له کورنيو توليداتو څخه ګټه واخلي.
له کورنيو توليداتو څخه ګټه اخيستنه لاندي ګټي لري:

د کورنيو توليداتو کارول د خصوصي سکټور په وده او پياوړتيا کي د پام وړ مرسته کولای سي. په هيواد کي دننه د توليدي اسانتياوو په رامنځته کولو سره کورني شرکتونه او فابريکې کولای سي له بهرنيو شرکتونو سره د سوداګريزو قوانينو په رڼا کي سالم رقابت وکړي، چي په پايله کي د توليداتو پر کيفيت، کميت او په بازارونو کي د بيې په کنټرول کي مهم رول لوبولای سي او همدارنګه ويلای سو، کله چي نظام او خلک د خصوصي سکټور له توليداتو څخه ګټه واخلي؛ نو له دې سره په خصوصي سکټور کي د کار زمينه زياتيږي.
پر بهرنيو توليداتو باندي د انحصار راکمول: د کورنيو توليداتو څخه په استفادې کولای سو، چي په بهرنيو توليداتو باندي د هيواد اتکا را کمه کړو، چي په دې سره هيواد د نړيوالو بازارونو د اقتصادي بدلونونو په وړاندي هم پياوړی کيږي او په بازارونو کي د توکو د انفلاسيون او قيمتونو د پورته کېدو خطرونه له منځه وړي.
عصري ټکنالوژۍ ته پراختيا ورکول: کله چي خلک د کورنيو توليداتو څخه استفاده او ملاتړ زيات کړي؛ نو خصوصي سکټور پياوړی کيږي. په دغه وخت کي توليدي شرکتونه او فابريکې کوښښ کوي، چي په هيواد کي عصري ټکنالوژي او نوښتونه رامنځته کړي، چي په بازارونو کي د عصري ټکنالوژۍ په مرسته په کم لګښت او لوړ کيفيت سره د بهرنيو توليداتو سره رقابت وکړي او خپل توليدات په نړيوال معيار هيواد والو ته وړاندي کړي او همدارنګه کولای سي، چي خپل توليدات نړيوالو مارکېټونو ته ورسوي.
د افغانستان اسلامي امارت له حاکميت وروسته د خصوصي سکټور د ملاتړ په برخه کي د پام وړ کار سوی دئ، د بېلګي په توګه مالياتي جريمې معاف سوې؛ د هيواد په ګمرکونو کي پر هغو توکو ګمرکي تعرفه لوړه سوې، چي په هيواد کي دننه توليدېږي او صنعتي فابريکو ته هم د برېښنا رسولو ستونزه حل سوې ده.

در نبت
اداره

## ۱۴۰۲ مالي کال له مالي پلان سره سم له لاسته راوړنو ډک او بريالی کال وو



پر هيواد د يو لړ بهرنيو مالي محدوديتونو په شتون کي؛ بيا هم له مالي پلان سره سم (۱۴۰۲) مالي کال په ملي کچه له لاسته راوړنو ډك او بريالی کال وو. په (۱۴۰۲هـ.ل) مالي کال کي د ماليې وزارت له لوري ملي عوايد په شفاف ډول راټول سول، ټاکل سوی عوايدي هدف په بريالي ډول ترلاسه سو، ملي بوديجه په ګټوره توګه مديريت سوه، د دولت ټول عادي او پراختيايي لګښتونه، چي د تېر کال په پرتله زيات ول په ټاکلي وخت اجراء سول، د ملي بوديجې په مټ يو لړ مهمي اقتصادي پروژې پلي سوې، سوداګرۍ پراختيا وموندله، له هيواد څخه په ترسره سوو صادراتو کي د پام وړ زياتوالی راغی او په ټوليز ډول د تېر کال په پرتله د هيواد اقتصادي وضعيت ښه والی وموندله. په ټوله کي (۱۴۰۲) مالي کال د تېر کال په پرتله په ملي کچه د مالي مديريت او اقتصادي پياوړتيا په برخه کي له لاسته راوړنو او پرمختګونو څخه ډك وو، چي له ګټورو تجربو څخه به ئې په (۱۴۰۳) مالي کال کي د ملي اقتصاد د لا پياوړتيا په موخه په بېلابېلو مهمو برخو کي ګټه واخيستل سي.
د يادوني وړ ده، چي د (۱۴۰۲) مالي کال له پای ته رسېدو سره د ماليې وزارت ټول مالي سيستمونه درېدلي دي، چي د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظـه اللـه) له لوري د (۱۴۰۳) مالي کال د ملي بوديجې تر توشېح کېدو وروسته به مالي چاري بيرته په عادي ډول پيل سي.

## د ماليې وزارت له لوري د تېري ادارې څخه پر نظام د پاتي پوروﻧﻮ د ورکړې لړۍ روانه ده



د افغانستان اسلامي امارت له پرېکړې سره سم له تېري ادارې څخه پر دولتي ادارو د يو شمېر قراردادي شرکتونو، حکمي او حقيقي اشخاصو د پاتي طلباتو، تضميناتو او تأميناتو د پروسې له پيلولو را وروسته، تر اوسه پوري د (۳۰) ادارو طلبات، تضمينات او تأمينات تثبيت او تائيد سوي دي. د (۳۰) تثبيت سوو ادارو له ډلي څخه، چي کومو ادارو د خپلو حوالو راپور له ماليې وزارت سره شريک کړی وو، له تطبيقاتو وروسته ئې د طلباتو لس سلنه برخه ورکول سوې ده او د پاتي نورو ادارو د طلباتو، تضميناتو او تأميناتو پر تثبيت او تطبيقاتو کار روان دئ. اوسمهال د ادارو د طلباتو، تضميناتو او تأميناتو د تثبيت او اجراء پروسه په نورمال ډول روانه ده او هغه ادارې، چي تثبيت سوي دي، له ماليې وزارت سره د خپلو حوالو د راپور له شريکولو وروسته ئې د طلباتو، تضميناتو او تأميناتو لس سلنه برخه ورکول کېږي.
د يادوني وړ ده، چي تثبيت سوي ادارې په لومړي سر کي د اړوندو حوالو راپور ترتيبوي او له ماليې وزارت سره ئې شريکوي، چي د ماليې وزارت له لوري د حوالو د تطبيقاتو وروسته ئې لس سلنه برخه ورکول کېږي.

## د نيمروز په ګمرک کي د څه باندي (۳۱) ميليونه افغانيو په ارزښت د موټروﻧﻮ تمځای جوړېږي



د ګمرکونو لوی رياست سوداګرو او موټر چلوونکو ته د لا اسانتيا رامنځته کولو په موخه د نيمروز په ګمرك کي د (۳۱،۹) ميليونه افغانيو په ارزښت د موټرونو د تمځای جوړولو چاري پيل کړې. په همدې مناسبت پرانيستغونډه کي د نيمروز ګمرك د مسؤلينو تر څنګ د يو شمېر سيمه ييزو ادارو مسؤلينو هم ګډون کړی وو. د نيمروز ګمرك په نوي جوړېدونکي د موټرونو تمځای کي به په اساسي ډول کانکرېټ واچول سي او چاري به ئې هم تر راتلونکو (۹) مياشتو پوري بشپړې سي. د يادوني وړ ده، چي د يادې پروژې بوديجه د ماليې وزارت له پراختيايي بوديجې څخه ورکول کېږي.



**د بې اسناده موټرسايکلونو د ثبت او محصول په تړاو د ګمرکونو لوی رياست خبرتيا!**

م ۲



**د ماليې وزارت يو شمېر مرکزي او ولايتي کارکوونکي په پوره ايمانداری تر رسمي وخت اضافه کار کوي**

م ۲




**مسئولين جديد وزارت ماليه معرفی گرديدند**

م ۲



**د ګمرکونو او عوايدو ملي اکاډمی په ۱۴۰۲ کال کي سلګونه کارکوونکي روزلي دي**

م ۲



**تأسيس زيربنا های اقتصادی و تقويت بنيه مالی و تخنيکی دهاقين برای پروسس محصولات زراعتی**

م ۳



**متجددي يا با ثباتي انرژۍ ته وده ورکول د افغانستان د اقتصادي بيا رغوني لار**

م ٤

## د کندهار، هرات او فراه ولایتونو په ځینو سیمو کې بېلا بېل قاچاقي توکي نیول سوي دي




د کندهار، هرات او فراه ولایتونو گمرکونو د گرځنده څارني ویښو کارکوونکو د یادو ولایتونو په بېلابېلو سیمو کې یوه اندازه قاچاقي توکي نیولي دي، چې غوښتل ئې په پټه ئې هیواد ته راوړي. په نیول سوو توکو کې (۲۵۰۰) کیلو گرامه پاکستاني دال، (۷۷۰) کیلو گرامه نخود، (۱۴۸) بستې رُب، (۷۵) کارټنه چاکلېټ او (۱۲۳) بستې خرما شامله ده. نیول سوي توکي د نورو اجراآتو لپاره اړوندو گمرکونو ته سپارل سوي دي.

## د کندهار ولایت په مستوفیت کې د افغان ملي بانک څانگه پرانیستل کېږي




په کندهار ولایت کې د مالیه ورکوونکو لپاره د اسانتیاوو رامنځته کولو او پر وخت او شفاف ډول د مالیې د ورکړې په موخه، د دغه ولایت په مستوفیت کې د افغان ملي بانک د رسمي څانگې پرانیستلو هوکړه لیک د دواړو لوریو ترمنځ لاسلیک سو. د یاد هوکړه لیک پر بنسټ به د ملي بانک یوه څانگه د کندهار ولایت د مستوفیت په داخل کې پرانیستل سي، چې ورسره به د دغه مستوفیت مراجعین وکولای سي په اسانۍ سره را ټول کړي عواید پرته له ځنډ تحویل کړي. د کندهار ولایت مستوفي حافظ مولوي سید نور احمد سعید دغه چاره یوه ښه لاسته راوړنه یاده کړه او وئې ویل، چې د مستوفیت مقام د چارو لا سمون، چټکتیا، روڼتیا او پرمختگ ته بشپړ ژمن دئ او مسؤلین په پوره ایمانداری سره اړوندي چاري ترسره کوي؛ تر څو ولس ته د ښو اسانتیاوو برابرولو او پر وخت خدمتونو وړاندي کولو ښه زمینه برابره کړي. د افغان ملي بانک ولایتي مسؤل هم په اړونده برخه کې د ښو او شفافو خدمتونو وړاندي کولو ډاډ څرگند کړ او د مستوفیت له مشرتابه څخه ئې مننه وکړه، چې افغان ملي بانک ته ئې په مستوفیت کې د ولس لپاره د خدمت کولو زمینه برابره کړه.

## د بې اسناده موټرسایکلونو د ثبت او محصول په تړاو د گمرکونو لوی ریاست خبرتیا!

د مالیې وزارت په وړاندیز او د ریاست الوزراء عالي مقام په منظورۍ په هیواد کې د جنایي جرمونو د مخنیوي او د بې اسناده موټرسایکلونو مالکینو ته د اسانتیا رامنځته کولو په موخه د هیواد په ټولو گمرکونو کې د بې اسناده موټر سایکلونو د ثبت او گمرکي محصول پروسه پیل سوه. د دې پرېکړې له مخې د بې اسناده موټرسایکلونو مالکین مکلف دي، چې ترتیب سوې فورمه کمپیوټري ډکه او دوه کسان د تضمین کوونکي په توگه، چې کم تر کمه یو ئې برېښنایي تذکره ولري معرفي کړي. اوس مهال د هیواد په کچه بې اسناده موټرسایکلونو ته د گرځېدو اجازه نه ورکول کېږي، د گمرکونو لوی ریاست د یادو موټر سایکلونو له مالکینو څخه په درنښت غوښتنه کوي، چې له دې فرصت څخه گټه واخلي او د خپلو موټر سایکلونو لپاره قانوني سندونه تر لاسه کړي. د بې اسناده موټر سایکلونو د ثبت او محصول د ترتیب سوي فورمې لینک د مالیې وزارت په اېکس پاڼه کې خپور سوی دئ تاسو کولای سئ، چې تر لاسه ئې کړئ.




## د مالیې وزارت یو شمېر مرکزي او ولایتي کارکوونکي په پوره ایمانداری تر رسمي وخت اضافه کار کوي

د روان (۱۴۰۲) مالي کال د پای نېټې له را نږدې کېدو سره سم، د مالیې وزارت د رهبری د هدایت پر بنسټ د دولتي ادارو د ټولو لگښتونو د پر ځای کولو، قراردادي شرکتونو او خلکو ته پر وخت د حوالو د اجراء کولو او په دې برخه کې د ځنډ د مخنیوي په موخه، د خزاینو او ملي بودیجې لویو ریاستونو او د (۳۴) مستوفیتونو مالي کارکوونکي د کب تر (۲۹) مي نېټې پوري، هره ورځ له رسمي وخت څخه زیات د شپې تر ناوخته پوري اړوندي چاري ترسره کوي.



د یادو مرکزي ریاستونو او د (۳۴) ولایتي مستوفیتونو کارکوونکي د (۲۵/۱۲/۱۴۰۲) نېټه د جمعي په ورځ هم خپلو کاري ساحو ته حاضر سوي ول او ور سپارل سوي مسؤلیتونه ئې په بشپړه ایمانداری ترسره کړي ول. د یادوني وړ ده، چې د کب میاشتي له (۲۹) مي نېټې وروسته به (۱۴۰۲) مالي کال پای ته ورسېږي او د راتلونکي (۱۴۰۳) مالي کال د ملي بودیجې تر توشېح کېدو پوري به د مالیې وزارت ټول مالي سیستمونه وتړل سي او ټولي مالي چاري به هم پای ته ورسېږي.

## د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ په ۱۴۰۲ کال کي سلگونه کارکوونکي روزلي دي

د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ په (۱۴۰۲ هـ.ل) کال کي د مالیې وزارت په شمول د پلټني عالي اداري او د درنو جرمونو پر وړاندي د مبارزې ریاست د کارکوونکو، مالیاتي محاسبینو او ملي سوداگرو ته په اړوندو برخو کې روزنیز پروگرامونه وړاندي کړي او د دوی د وړتیا لوړولو لپاره ئې له مسلکي روزونکو گټه اخیستې. دغه روزنیزو پروگرامونه د گمرکونو نړیوال سازمان(WCO) او سوداگرۍ نړیوال سازمان(WTO) د معیارونو مطابق او د گمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ د نوي ټکنالوژۍ او د ځینو هیوادونو د بریالیو تجربو په رڼا کي پلي سوي دي او همدا رنگه ئې د گمرکونو کارکوونکو ته د کورنیو زده کړو سربېره له هیواده بهر هم د زده کړو زمینه برابره کړې ده. دغې اکاډمۍ په (۱۴۰۲هـ.ل) کال کې د مالیې وزارت د مرکزي او ولایتي ادارو کارکوونکو ته د شته امکاناتو، مجربو ټرېنرانو او پرمختللو وسایلو په مټ پر نړیوالو معیارونو برابر د (۲۳) روزنیزو پروگرامونو په لړ کې (۹۶۵) تنو کارکوونکو ته په اړوندو برخو کې مسلکي روزنه ورکړې ده. یادي اکاډمۍ د خپل تدریسي پلان د عملي کولو تر څنگ، په همدې کال کې د عوایدو لوی ریاست، د بشري سرچینو ریاست، د امارتي شرکتونو، د ساتني او څانگړو عملیاتو تنفیذي قطعې او د پلټني له عالي اداري سره د (۱٦) روزنیزو پروگرامونو په وړاندي کولو کې مرسته کړې، چې (۷۳۸) کارکوونکو ته ئې پکښې په بېلابېلو برخو کې په معیاري ډول روزنه ورکړې او هم ئې د یادو ادارو (۵۱۵) تنو ته د ازادو سیالیو له لاري د ازموینو اخیستلو زمینه برابره کړې ده.



## مسئولین جدید وزارت مالیه معرفی گردیدند


به اساس حکم امیرا لمؤمنین (حفظه الله)؛ سپردن کار به اهل کار، استفاده از تجارب اشخاص مسلکی جهت پیشبرد هر چه بهتر امور و عرضه خدمات بهتر به هموطنان، مسئولین جدید برای بعضی از ادارات وزارت مالیه معرفی گردیدند. حافظ شاه حسین حسینی، معاون حمایوی ریاست عمومی عواید به حیث رئیس عمومی عواید، مولوی عبدالوهاب، مستوفی اسبق ولایت ننگرهار به حیث مستوفی ولایت بلخ، شیر محمد مشفق،




رئیس عمومی اسبق عواید به حیث مستوفی ولایت ننگرهار، شیخ محمد اکبر هاشمی، به حیث مستوفی ولایت زابل و مولوی نور الهادی، رئیس اسبق استخبارات ولایت بدخشان به حیث آمر مالی مستوفیت ولایت زابل تقرر حاصل نمودند. قابل یاد آوریست، که امارت اسلامی افغانستان بخصوص وزارت مالیه متعهد به شایسته سالاری بوده و همواره تلاش نموده است اشخاص متعهد و مسلکی را در رأس امور قرار داده و خدمات شایسته را عرضه کند.

## د مالیې وزارت د ساتني او ځانگړو عملیاتو په تنفیذي قطعه کي د ستوماتولوژۍ څانگه فعاله سوه

د مالیې وزارت د ساتني او ځانگړو عملیاتو په تنفیذي قطعه کې د روغتیا آمریت له لوري د ستوماتولوژي (د غاښونو طبابت) یوه مجهزه څانگه فعاله او گټې اخیستني ته وسپارل سوه. د دغې طبي څانگې له جوړېدو سره به له دې وروسته د منسوبینو د غاښونو ډکول، ایستل، پوښول، مینځل او د نوي غاښ اېښودل د مؤظف ستوماتولوژیسټ ډاکتر لخوا تر سره کېږي. د ساتني او ځانگړو عملیاتو په تنفیذي قطعه کي د روغتیا آمریت یو مستقل آمریت دئ، چې په تشکیل کي یو (MD) عمومي داخله ډاکټر، یو تن ستوماتولوژیسټ (د غاښونو ډاکټر)، یو فارمسیسټ (درمل جوړوونکی)، یو د لابراتوار ډاکټر او دوه تنه نرس ډاکټران لري. یاد آمریت د قطعې د منسوبینو د معالجې او تداوۍ په موخه (۲۴) ساعته فعال وي.



SHTAMANI
اوونیزه

# تأسیس زیربنا های اقتصادی و تقویت بنیه مالی و تخنیکی دهاقین برای پروسس محصولات زراعتی

دوکتور محمد اکبر نادرپور
آمر ارتباطات استراتیژِیک با تمویل کنند گان، وزارت مالیه

افغانستان بزرگترین تولید کنندۀ محصولات زراعتی بوده، ترویج زراعت عصری که متضمن افزایش سطح تولید و حاصل دهی و بهبود کیفیت محصولات در مطابقت به معیار های بازار است مستلزم ایجاد نهاد های اجتماعی اقتصادی مستقل مانند انجمن های زراعتی،کوپراتیف های زراعتی و اتحادیه های دهقانی، شرکت های زراعتی، به منظور تجمع داوطلبانه دهاقین در امر تولیدات محصولات زارعتی می باشد. به اساس اسناد دست داشته، در سال ۱۳۵۷ به تعداد ۱۲۷٤ کوپراتیف زراعتی عملاً فعالیت تولیدی و تجارتی کار می نمودند ولی با تداوم جنگ و اختلافات داخلی این رقم تدریجاً الی سال ۱۳۸۰ به صفر گرائید، در سال ۱۳۸۱ تاسیس کوپرایتف ها دوباره آغاز و به تعداد ۲۵۱۲ کوپراتیف ایجاد و به تعداد ۱۷۰ کوپراتیف عملاً در فعالیت های تجارتی مشغول بودند، در حال حاضر کوپراتیف های زارعتی و انجمن های زراعتی به سطح پائینی تقلیل یافته است. در واقع تولید کنند گان محصولات زراعتی افغانستان






که همه ساله مقدار زیاد تولیدات و محصولات زراعتی شان ضایع گردیده و خسارات قابل ملاحظه اقتصادی از این بابت متوجه دهاقین و تولید کنند گان میگردد، علل عمده آن همانا، ضایعات تولید محصولات بدون مطالعه تقاضای بازار، نبود مراکز پروسس (جمع آوری،سورت بندی، بسته بندی، علامه گذاری و انتقال) انواع محصولات میوه جات و غله جات و سبزیجات افغانستان می باشد. از اینرو، در بخش آگاهی دهاقین و تولید کنند گان، نیازمندی بازار و تأسیس مراکز پروسس، سرمایه گذاری کافی صورت نگرفته است. تولیدات و محصولات زراعتی کشور در بازار های منطقوی به قیمت بسیار نازل بفروش رسیده بود. با توجه به اهمیت محصولات زراعتی که بعد از عملیه پروسس، به نرخ بسیار پائین در بازار های جهانی عرضه میگردد، باید یاد آور شد که صدور تولیدات و محصولات زراعتی با خطر بالقوه ضیاع وقت در زمان صادرات، به نسبت تعذیرات وقت گیرانه در بنادر مختلف همسایگان، در زمان صادرات محصولات زراعتی به مشکل رو برو گردیده همراه می باشد. به منظور حل مشکلات و نظم دهی شیوۀ صادرات محصولات زراعتی، تقویت بنیه مالی و اقتصادی دهاقین در هماهنگی و همکاری با سکتور خصوصی، ادارات ذیدخل میتوان فعالیت های ذیل را انجام داد:

- اعمار و ایجاد مراکز پروسس سبزیجات، میوه جات و حبوبات توام با ذخیره گاه ها و سرد خانه ها در سطح کشور.
- نظم دهی میکانیزم صدور تصدیق کیفیت و تفویض نشان تجارتی محصولات زراعتی به منظور بالا بردن کیفیت تولیدات.
- تنظیم و ایجاد سیستم آگاهی دهی محصولات زراعتی از نظر (کمی و کیفی ) برای بازاریابی محصولات زراعتی.
- حمایت مالی و اقتصادی دهاقین، شرکت ها جهت ایجاد و تقویه فابریکه های کارتن سازی، لیبل سازی به منظور بازاریابی محصولات زراعتی.

در نتیجه، این امر، مستلزم تمرکز بیشتر بر فعالیت های زنجیرۀ ارزش افزائی در تنظیم مدیریت قوی فعالیت های تجارتی و تولید محصولات زراعتی، میکانیزم سهولت های ایجاد شده برای تطبیق روند صادرات محصولات زراعتی به سطح کلی بوده و می تواند زمینه ای مناسب را برای صادرات محصولات با ارزش و جلب و جذب مشتری در منطقه و فرا منطقوی مساعد نموده، تسهیلات لازم را برای نیل به هدف بلند مدت اقتصادی و انکشاف تولیدات محصولات زراعتی، یک تحول قوی را در حصه ی افزایش تولیدات داخلی و صادرات آن جهت دسترسی به بازار های بین المللی به وجود آورد. فراهم ساختن حمایت های مالی، اقتصادی و تخنیکی برای دهاقین اساس رشد عواید آنها را تشکیل میدهد. در حال حاضر دسترسی دهاقین کشور به منابع مالی و تخنیکی خیلی محدود بوده و این باعث گردیده تا زراعت بشکل بسیار ابتدایی صورت گرفته و درآمد دهاقین به سطح بخور و نمیر باقی بماند. به منظور ترویج و انکشاف زراعت تجارتی که بتواند حداقل در سطح بازار های داخلی و منطقه رقابت نماید، لازم دیده می شود که بنیه مالی، اقتصادی و تخنیکی دهاقین کشور تقویه و حمایت گردد.

# اعلانات داوطلبی

### اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از فقره (۲) ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانیده می شود، اینکه وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد (پروژه تدارک وسایل تکنالوژی برای شعبات ریاست خدمات مالیه دهندگان) دارای نمبر قرارداد ٠٦٤-NLB/G/١٤٠٢/MOF را با شرکت محترم تجارتی و لوژستیکی طلحه زبیر لمیتد دارنده جواز نمبر۲۰۲۷۵-۰۱۰۱ به قیمت مجموعی مبلغ ۱۱،۲۰۰،۰۰۰ (یازده میلیون و دوصد هزار) افغانی عقد قرارداد نماید.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند میتواند اعتراض خویش را از تاریخ(۱۴۰۲/۱۲/۲۶ الی ۳/ حمل/ ۱۴۰۳) طور کتبی توام با دلایل آن به وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات -کابل ارائه نماید.

این اطلاعیه به معنی عقدقرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.

آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، آمریت تدارکات - مشاوریت تدارکات منزل دوم معینیت اداری.

### اعلان داوطلبی (۳) جایداد دولتی واقع مزارشریف ولایت بلخ

مستوفیت ولایت بلخ جایداد های مازاد ضرورت خویش را بشکل آفر سربسته به کرایه میدهد که قرار ذیل می باشد:
۱ موازی ۱۰۰۰ مترمربع زمین سفید واقع کارته آریانا شهر مزار شریف را به اساس نرخ ابتدائی تعین شده ماهوار مبلغ (٦٦٠٠) افغانی
۲ - یک دربند حویلی دارای سه منزل تعمیر به مساحت ۹٦٠ مترمربع واقع کارته آریانا شهر مزار شریف را به اساس نرخ ابتدائی تعین شده ماهوار مبلغ (٤٥٠٠) افغانی
۳- یک دربند حویلی به مساحت ۹۰۰ مترمربع دارای سه منزل تعمیر و مهمان خانه جداگانه واقع کارته آریانا شهر مزار شریف را به اساس نرخ ابتدائی تعین شده ماهوار مبلغ (۷۰۰۰) افغانی،
اشخاص حقیقی و حکمی که خواهش کرایه گیری جایداد های متذکره را داشته باشند در خواستی های خویش را از تاریخ ۱۴۰۲/۱۲/۲۱ الی ۱۴۰۳/۰۱/۵ به مدیریت عمومی املاک مازاد مستوفیت ولایت بلخ ارائه و شرطنامه را ملا حظه تضمین نقداً اخذ میگردد.

### د داوطلبۍ خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرایطو برابر تولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د اسیکوډا سیستم ۴ سرورونو د تهیې او تدارك) په پروژو کي، چي تشخصیه نمبر ئې (۰۰۲-NCB/G/١٤٠٣/MOF) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه تر سره کېږي برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي پتو څخه ترلاسه کړي.
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلې نېټه: (حمل ۱۱مه۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (حمل ۱۹ مه ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمین: اویا زره ( ۷۰۰۰۰) افغانۍ.
ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

### دعوت به داوطلبی

وزارت مالیه امارت اسلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در داوطلبی (تهیه و تدارك پرزه جات اسکنر در پنج ولایت گمرك حیرتان، کابل، نیمروز، اسلام قلعه و میدان هوایی کندهار) دارای نمبر تشخیصیه(٠٦٨-NCB/G/١٤٠٢/MOF Rebid ) که به روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان پشتو و دری ذریعهء فلش میموری از آدرس ذیل مطابق شرایط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء میگردد بدست آرند.
جلسه قبل از آفرگشایی: تاریخ ۱۱/ حمل /١٤٠٣ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تاریخ مشخص آفرگشایی: تاریخ ۱۹/ حمل /١٤٠٣ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر میباشد.
تضمین آفر: به مبلغ ۱٥۰,۰۰۰ (یک صدو پنجا هزار) افغانی میباشد.
آدرس: وزارت مالیه چهارراهی پشتونستان – ریاست تدارکات، مشاوریت تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

### د داوطلبۍ خبرتیا

د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت پر شرایطو برابر ټولو داوطلبانو ته بلنه ورکوي، چي (د ماليې وزارت د موټرونو لپاره د روغنیاتو او فلټرونو برابرولو) په پروژو کي، چي تشخصیه نمبر ئې (١٤٠٢/MOF/ ۱۱۱-NCB/G) دئ او د داخلي پرانیستي داوطلبۍ په بڼه تر سره کېږي برخه واخلي او شرطپانه ئې په پښتو او دري ژبه د فلش یا میموري له لاري د شرطپاڼي له شرایطو او د تدارکاتو له قانون او طرزالعمل سره سم له لاندي پتو څخه ترلاسه کړي.
تر داوطلبۍ وړاندي د جلسې ټاکلې نېټه: (حمل ۱۳مه۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفرگشایي ټاکلې نېټه: د (حمل ۲۰ مه ۱۴۰۳) د سهار ۱۰:۰۰ بجې.
د آفر تضمین: څلور سوه زره ( ۴۰۰۰۰۰) افغانۍ.
ځای: پښتونستان واټ، د ماليې وزارت، دوهم پوړ، د تدارکاتو ریاست – د تدارکاتو مشاوریت
د اړیکو شمېرې: ۰۲۰۲۹۲٤۱٥٦

شتمنۍ
SHTAMANI
اوونیزه

د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

ویبسایټ: mof.gov.af
اېکس پاڼه: Afghanistan mof
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : (+)۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰



# MoF to Build Vehicles Parking Lot Worths Approximately 31 mln Afs at Nimroz Customs



The General Directorate of Customs has launched the construction working of vehicle parking lot that worths 31.9 million Afs in Nimroz Customs in order to provide more convenience to 'traders and vehicle drivers'. On this occasion, in addition to the officials of Nimroz Customs, the officials of some local bodies have also attended in the opening meeting. "Nimroz Customs will basically lay concrete in the newly built parking lot and its construction process will have been completed the by the next nine months", as GDC officials confirmed. Notably, the budget of the said project is provided from the development budget of the Ministry of Finance.

# Various Contrabands Seized in Some Areas of Kandahar, Herat, Farah Provinces

The mobile surveillance staff of customs of Kandahar, Herat and Farah provinces has seized a quantity of contrabands in different areas of these provinces, which smugglers wanted to bring secretly to the country. The contrabands include 2500kg of Pakistani pulses (Daal), 770kg of peas, 148 bags of tomato paste, 75 cartons of chocolates and 123 bags of dates. The seized items have been handed over to the relevant customs for further processing.



# NOTICE of Directorate of Customs Regarding Registration, Customs Duty of Undocumented Motorbikes



By the proposal of MoF and with the approval of Prime Ministership, in order to prevent 'criminal offenses' within the country and to 'facilitate the owners of undocumented motorcycles', the process of registration and customs duty of undocumented motorbikes has been incepted in all customs offices of the country. According to this decision, the owners of undocumented motorcycles are obliged to fill the prescribed and computerized form and introduce two people as guarantors, at least one of whom has an e-ID card. Currently, undocumented motorbikes are not allowed to be used for driving around the country. The General Directorate of Customs respectfully requests the owners of motorcycles to benefit from this opportunity and obtain documents for their motorbikes.

Click Registration Form for Undocumented Motorbikes from the Link Below:

https://customs.mof.gov.af/file_download/205/د+بې+اسنادو+موټرسایکلونو+فورمه،+وروستۍ.docx




## متجددي یا باثباتي انرژي ته وده ورکول

## د افغانستان د اقتصادي بیا رغونې لار



د ډیپلومات ـ THE DEPLOMAT په نوم یوې نړیوالې پر کرښې جاپانۍ رسنۍ د همایون خان یوه اقتصادي مقاله خپره کړې ده، چې وايي د اوبو، لمریزې او بادي برېښنا پراختیا کولای سي له خارج څخه د افغانستان د برېښنا واردات کم کړي او د سیمه ییزې باثباتي انرژۍ د مرکز په را منځته کېدو کې مرسته وکړي. مقاله تحلیل کوي، چې د با ثباتي انرژۍ په برخه کې پانګه اچونه کولای سي د دندو د رامنځته کولو په بڼه کې دوامداره اقتصادي وده پرمخ بوځي، او په دې ډول پر بهرنیو شریکانو باندې تکیه کمه کړي.

د برېښنا د تولید له پاره داسې ارقام اوډي: «افغانستان د انرژۍ، اوبو او باد په ګډون پراخې طبیعي سرچینې لري، یعني له هایډرو څخه (۲۳) ګیګاواټه، (٦۷) ګیګاواټه له باد څخه او همدارنګه (۲۲۰) ګیګاواټه له لمریزو سرچینو څخه په لاس راوړي.» مقاله اټکل کوي، چې وايي په یادو سرچینو سره افغانستان نه یوازې خپله انرژي پوره کوي؛ بلکې د جنوبي اسیا نورو هیوادونو ته د اضافي انرژۍ د صادرولو وړتیا هم لري.

د متجددي یا باثباتي انرژي د سرچینې په توګه د اوبو په برخه کې پانګونه د افغانستان له پاره دوه اړخیزه ګټه کوي، مطلب دا چې له اوبو څخه د برېښنا تولید به نه یوازې دا چې د اوبو له سرچینو څخه به ګټه اخیستل سوې وي؛ بلکې بهرنۍ وارداتي برېښنا به هم را کمه کړي، چې په مقاله کې ئې یوه بېلګه د تاجکستان وارداتي برېښنا په نوم یاده سوې ده. لمریزه انرژي د افغانستان د باثباتي انرژۍ د ټول ظرفیت ثلثین یا دوه پر دریمه برخه (۳/۲) (۳۰۰,۰۰۰) میګاواټه جوړوي. د لمریزې برېښنا له پاره د دې ملک موقعیت مناسب بلل سوی دئ او وايي، چې افغانستان د لمریزې برېښنا د کارولو له پاره ښه موقعیت لري.

مقاله د افغانستان او امریکا لمریزه برېښنا داسې پرتله کوي: «د افغانستان د لمریزې انرژۍ ظرفیت د امریکا متحده ایالاتو له څلورو لمریزو ایالتونو سره د پرتلې وړ دئ.»

د ننګرهار د حصار شاهي صنعتي لمریز پارک ته په اشارې سره کاږي، چې د متجددي انرژۍ په برخه کې پانګونه به د هیواد انرژي خپلواکه او هم به صنعت او سوداګرۍ ته د پام وړ وده ورکړي. د اسلامي امارت او خصوصي سکټور ترمنځ د لاسلیکونو له پاره داسې ټکي رانغاړي: «په تېرو دوو کلونو کې د صنعت او سوداګرۍ وزارت او خصوصي بنسټونو ترمنځ د (٥٤,٥) میلیونه ډالرو په ارزښت (٦۳) تړونونه لاسلیک سوي دي، چې وايي په (۲۵) ولایتونو کې ئې نږدې شپږ لکه او (٤۱) زره کسانو ته د کار زمینه برابره کړې ده.»

د مقالې د پای کرښې د «کاسا – ۱۰۰۰» نوم هم ذکر کوي او وايي، چې نړیوال بانک هم د (۱,۲) میلیارډه امریکایي ډالرو په ارزښت (CASA-۱۰۰۰) د پاکې انرژۍ پروژه تصویب کړه، چې تاجکستان، قرغزستان او پاکستان په کښې برخه لري. تحلیل د افغانستان د صنایعو او کانونو په خونه کې د نړیوالې ټولنې پر اړتیا ټینګار کوي، چې وايي د اوسني اقتصادي کړکېچ د کمولو له پاره له افغان خصوصي سکټور سره همکاري وکړي.

مقاله وايي، چې په دې برخه کې متجدده یا باثباته انرژي د افغانستان د اقتصادي ثبات له پاره د دوامدارو سوداګریزو کړنو د تضمینولو وړتیا لري. د مالیې وزرات او اقتصاد وزارت د همغږۍ په باب کاږي: «د نړیوالو پانګوالو، افغان ونډوالو او د مالیې وزارت او اقتصاد وزارت د پالیسۍ جوړونکو ترمنځ همغږې همکاري به د افغانستان اقتصاد د را ژوندي کولو، پر ځان بسیا کېدو، دندو پیدا کولو او پر بهرنیو مرستو د تکیې په کمولو کې خورا اړینه وي.»